# ځينې خلک د الله په مال کې په ناحقه؛ ناوړه لګښت کوي، نو د قيامت په ورځ د دوی لپاره اور (دوزخ) دی

له خَولة الأنصارية رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «ځينې خلک د الله په مال کې په ناحقه؛ ناوړه لګښت کوي، نو د قيامت په ورځ د دوی لپاره اور (دوزخ) دی»

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو خلکو په اړه خبر ورکوي چې د مسلمانانو په مالونو کې ناوړه تصرف کوي او په ناحقه يې اخلي، دا (تصرف)هر ډول مال ته شامل دی چې راټوليږي او يا په ناروا توګه تر لاسه کيږي او بې ځايه په ناحقه ځايونو کې لګول کيږي، پدې کې د يتيمانو مالونه، وقف، په امانت منکرېدل او له حق پرته له عامه مالونو څخه اخيستل شامل دي. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې د قيامت په ورځ د دوی جزا دوزخ دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5331

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee